مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نجیب الله پتمن ۲۰۲۱/۰۴/۱۲

د جګړې شوم میراث

زموږ مینه په جګړه سره سنجول کیږي ځکه چې وروسته له دوهمې نړیوالې جګړې څه پیښ شول.
د ښې جګړې بل اړخ : " جګړه د امریکا لپاره ساعت تیری وه. زه د غمجنو ارواوو په اړه خبرې نه کوم چې زامن او پلرونه په جګړه کې له لاسه ورکړي دي، مګر زموږ ټولو لپاره جګړه د ښه وخت دوزخ وو" .
د دوهمې نړیوالې جګړې شفاهي تاریخ مګر دسولې پوهه له یو هیواد بل هیواد ته خپریږي لکه دماشومانو لوبې زیاتره هر چیری یو ډول وی .

د سړیو نړی!!!

ولې د خوش ژوند ته شا کړه، او خپل خوږ ژوند دی له نورو سره په جګړه کې قربانی کړ؟
دا داسې برخلیک دی چې هیڅ کلتور یې نه مني او داسې جهالت دی چې ښه اوبد نوم نلری.

"جګړه د پخوانی فساد پایله او دنوی فساد زیږنده ده ".
لویس ممفورد

جګړه شرارت ده چې دوه شیطانان یې زیږوي او په ټولنه کی دسرطان داني رول لوبوی.
دنازیزم پرضد جګړه برحقه وه، مګر د نازیزم مخالفینو هره کړنه برحقه نه وه.

کله چې دروس سور اردو په جګړه کی بریالی شو او برلین ته د ټوپکو او ټانکونو سره ننوت ، له مغلوبه جرمنیانو سره یې څه چې زړه غوښتل هغه یې وکړل.

چرچیل وایي:

"دجګړی په وخت کی منځ لاری نشته دی، دغه حقیقت یو لوری مجبوروی چې بل لوری ومنی".

هره جګړه که برحقه هم وی دانسان ماهیت راتیټوي او تمدن لړزوي کله د پیړیو ابادی دسترګو په رپ کی کنډ واله ګرزوی
طالبانو کوم دوه بوتان چې په زرهاوو کلونه مخکی دبی شمیره انسانانو په لاس جوړ شوی وو، د ګوتو په شمار کسانو له خوا وران شول. پداسی حال کی چې دغه بوتانودطالبانو تحریک او ددوی ایډیالوژی او عقیدی ته هیڅه خطرنه وو پیښ کړی.

انسان جګړې ته داقتصادي ګټو او یا ددین په وسیله لمسول کیږ ی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دجګړې پلمه دځان برحقه ثابتول وی بیا هم د جګړې دټولو خواوو قاعده یوه دی،هغه بدګومانی اودښمنی ته وده ورکوی. دعقایدو اختلاف او ترلې کلتورته خلک ژمن وی.

عیسوي لښکرو په اصطلاح کافروسره صلیبی جګړه پیل کړه او پدی پلمه چې منځني ختیځ کی خپل مقدس ځایونه بیرته ونیسي او ددی کاذب شعار لاندی دخپلې عقیدی مخالفین ختم کړی.
دهر انسان عقیده په خپل ذات کی ارزښتمنه ده ،په جګړه کی تاریخي او ایدیالوژیک بریالیتوب د هغی وژونکی او ځورونکی بوی نشي پټولای.
د جګړی ساده منطق داسي دی، الف ځکه ب وژنی چی ب له الف سره موافق نده، ددی په سر چی د باغ په اخر کی شاپیری دی. خلک پریښودل شي چې په څه عقیده لری له هغه سره ژوند وکړی، مګر دعقیدې په سر یو او بل خوړ او ټپی نکړی .
د ژوند ریالیزم انسان منځلاري ته هڅوي ، خلک باید دا زده کړي چې له نورو سره په توپیر کی ژوند وکړي .
دا لویه انساني هیله عملی اهمیت لری چې د مختلفو مذهبونو خلک په واحده ټولنه کی یو ځای ګډ ژوند ته رابولي .
ددی لپاره د ټولنی ښوونی او روزنی بنیادونه له مذهبی تعصب لیری او بی پلوه وی او اوسیدونکي یې د متقابل تفاهم په وسیله یو او بل درک او وپیژني.
دایدیالو ژیو له جګړو څخه ځانونه لیری وساتو او که نه سبا به جګړه پیل شی. دشیعه او سنی اسلام تر منځ اختلاف نه پخلاکیدونکی دی . دعراق،سوریې، یمن او افغانستان خلک ددی دوو ډلو د سیالی قرباني دي .
دا په نړی کې سخته دنده ده چې انسان داسې وروزو چی له تعصب پاک او مبرا وی او په مغزو کی دا زهری میوه زرغونه نشی.
داهم ستونزمنه ده چی له یوی خوا معصوم اوبی ګناه او له بلی خواد پاریدلو متعصیبینو څخه دځان او ارزښتونو دفاع وکړی .
هغه انسانان چی دجګړی څخه ژوندی وتلیذوي ، دخپل ځان او راتلونکو نسلونو دژغورنې لپاره باید د تعصب،خرافاتو، افراطیت او کرکې په مقابل کې ودریږی.
بشر دجګړی دغه مشخصات د یواو بل پر ضد په بی رحمانه توګه کاروی او دا دجګړو شوم میراث دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ